SHARIAT WEEKLY

شريعت

اوونيزه

په اوونۍ کي دوه ځله خپرېږي

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريک مرکزي نشراتي ارگان

دريم کال اوه لسمه گڼه پرله پسي (۱۱۷) چهارشنبه د ۱٤۱۸ هق کال ذوالقعدة الحرام (۲۷) ۱۳۷۷ هـ ش کال د وري دمياشتي (۵) د ۱۹۹۸ ميلادي کال مارچ (۲۵)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډېر نـږدي دی تقوا(پرهيزگاری) ته .

(سورة المائدة)

فعلاً ظرفيت توليدي سيلوي مرکز در ۲٤ ساعت ۵۰ هزار قرص نان ميباشد

توليدات سيلو از طريق غرفه هاي سيار براي همشهريان کابل عرضه ميگردد

سيلوي مرکز ميتواند در پهلوي نان خشك، روت، کيك وکلچه، بسکيت، ناشتا، آش و مکروني را با کيفيت عالي توليد نمايد

محترم ملا عبدالوصيل «سالك» رئيس سيلوي مرکز

خوانندگان محترم! استغناء در اقتصاد، محور مرکزي سياست اقتصادي تحرك اسلامي طالبان را تشکيل ميدهد، از همين رو مسوولين امارت اسلامي هر يك به زعم سهم خويش پيوسته ميکوشند تا در جهت رشد و ارتقاء اقتصاد جامعه قلم در قدم گاه هاي سودمند برداشته و کماکان نقش برازنده شان را بيشتر از هر وقت ديگر تبارز بخشند.

فعاليت مجدد سيلو مرکزي کابل دال بر آنچه ميباشد تا اينجا گفته آمديم . خبرنگار هفته نامه شريعت گزارشي را در رابطه به فعاليت مجدد سيلوي مرکز تهيه نموده است که شما عزيزان را به خوانش آن فرا ميخوانيم :

سيلوي مرکزي کابل در سال ۱۳۳۳ هـ ش تهداب گذاري و در سال ۱۳۳۵ هـ ش با کميت ۱۸۰۰ کارگر و پرسونل و داشتن يك باب فابريکه نان پزي و يك چرخ آسياب و يك اليواتور(ذخيره گاه

ص ٤»

رئيس شوراي سرپرست در رأس يك هيئت عاليرتبه عازم اسلام اباد گرديد

محترم الحاج ملا محمد رباني رئيس شوراي سرپرست بنا به دعوت رسمي جمهوري اسلامي پاکستان در رأس يك هيأت عاليرتبه امارت اسلامي افغانستان به تاريخ ۲۵ ذي القعده عازم آنکشور گرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : هيأت عاليرتبه امارت اسلامي افغانستان تحت رياست محترم الحاج ملا محمد رباني رئيس شوراي سرپرست با ترکيب محترم الحاج ملا محمد عباس اخند، سرپرست وزارت صحت عامه، محترم الحاج مولوي احمد جان سرپرست وزارت معادن و صنايع، محترم مولوي سيد محمد حقاني، معين وزارت امور خارجه، محترم مولوي عارف الله عارف معين وزارت ماليه، محترم مولوي الله داد اخند معين وزارت مخابرات ، محترم مولوي

ص ٤»

د افغانستان د اسلامي امارت سلاکار د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو د ځانگړي استازي سره په اسلام اباد کي وکتل

د افغانستان د اسلامي امارت سلاکار محترم مولوي وکيل احمد متوکل د ذوالقعدة الحرام په ۲۵ مه د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو د ځانگړي استازي سره په اسلام اباد کي وکتل

د ملگرو ملتونو د سازمان د سرمنشي له ځانگړي استازي اخضر ابراهيمي او د اسلامي هيوادونو د کنفرانس د سازمان له استازي مختار الاماني سره په اسلام اباد کي وکتل.

څلورم مخ

د امريکا هره ځانگه د نشه اي مواد و په کار و بار کي ککړه ده

د نشه اي موادو سوداگري به هېڅکله هم ختمه نه شي ځکه چي د امريکا د عوايدو ډېر انحصار په همدي پيسو دي

په ۱۹۹۷ م کال کي د نشه اي موادو تجارت شپږ سوه فيصده ډېر شويدي

نړيوالې خبرې سرچينې

په امريکا کي د نشه اي موادو د سوداگري کار و بار ورځ په ورځ پر مختگ کوي

د نړيوالو خبري سرچينو د خبر له مخي د امريکا د استخباراتو د شبکي سي آي اې نه نيولي تر امنيتي ځواکونو ټول سر کاري مامورين د نشه اي موادو په کار و بار کي ککړ دي .

نواي وقت ورځپانه په خپلي د مارچ ۲۲ گڼي کي له کاناډا نه خپريدونکي انگريزي کريسنټ انټرنيشنل مجله په حواله ليکي چي د ۱۹۹۱ م کال نه تر ۱۹۹۷ م کال پوري د پوډرو د سوداگري کچ د ۸۵ بليونو ډالرونه ۵۰۰ بيلونو ته رسيدلي دي

په راپور کي ويل شويدي چي دا سوداگري ددي کار کچ د پخوا په انډول په سلو کي شپږ سوه لوړ شوي دي د لويديځ پوهان باور لري چي تر ۲۰۰٤ م کال پوري به د نشه اي موادو سوداگري اتلس سوه بليونو ډالرو ته ورسيږي چي دا رقم په هغي وخت کي د ټولي دنيا د سوزرو ددخيري په اندازه وي.

په راپور کي ويل شـويدي چي د امريکا د استخباراتو شبکه د پوډرو عوايد په نورو هيوادو کي په خپلو عملياتو کي لگوي په راپور کي ويل شـويدي چي د امريکا د استخباراتو اداري(سي آي اې) د روانې سليزي په څلورمه لسيزه کي د خپل جوړښت له لومړي ورځي نه راپديخوا د نشه اي موادو کارو بار پيل کړيدي په راپور کي راغلي چي کله چي د روانې سليزي په شپږمه او اوومه لسيزه کي ، کمبوديا، ويتنام او لويس د امريکا بي جارحيت پر خلاف جنگيدل نو امريکا د هغوي په مقابل کي د نشه اي موادو نه لاس ته ورغلي پيسي استعمالولي همدا راز د اوومي لسيزي په پاي اوڅلورم مخ

جلسه مشترك کميسيون عالي مبارزه با مواد مخدر و کميته انسجام کنترول مواد مخدر ولايت کابل تدوير يافت

جلسه مشترك کميته امور صحي و تداوي معتادين کميسيون عالي مبارزه عليه مواد مخدر و کميته انسجام کنترول مواد مخدر ولايت کابل به تاريخ ۲۵ ذي القعده تدوير يافت .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در جريان جلسه ابتدا سکرتر جنرال کميسيون پيرامون نقش وقايه و خدمات پيشگيري وضع معتادين و تداوي آنها امکانات عرضه خدمات درماني و طبي در شفاخانه معتادين و نيز در مورد ترميم و تجهيز شفاخانه صحت رواني و معتادين شهر کابل به همکاري و کمك يو.ان.دي.سي.پي . صحبت نموده معلومات لازم در زمينه ارائه داشت .

در اخير جلسه فيصله بعمل آمد تا به مساعي مشترك جهت مطالعه و سروي مقدماتي مبني بر تشخيص و تثبيت معتادين مواد مخدر و جمع آوري ارقام احصائيوي در زمينه تيم هاي مسلکي سروي تعين و توظيف گردد .

کار احياء و بازسازي ولايت نيمروز در ساية امنيت مطمئن ادامه دارد

کار احيا و بازسازي ولايت نيمروز ادامه داشته و برخي از تاسيسات و عمارات حکومتي مورد استفاده قرار گرفته است .

اژانس اطلاعاتي باختر گزارش داد : به اثر توجه مسوولين امارت اسلامي افغانستان کار احياي مجدد و باز سازي در آن ولايت آغاز گرديده که به سلسله آن تا کنون دفاتر و تاسيسات امريت راديو ، مخابرات ، ارتباط خارجه محکمه مرافعه ، گمرك و بانك ، ترميم و مورد

ص ٤»

هيأت ستره محکمه از محاکم ولسوالي هاي ولايت لغمان ديدن نمودند

هيأت سه نفري ستره محکمه از بخش هاي محاکم مرکز و ولسوالي هاي ولايت لغمان ديدن نمودند. آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : هيأت متذکره تحت رياست محترم مولانا محمد شريف اسحق زي از امور اجراات محاکم مهتر لام و ولسوالي هاي قرغه يي عليشنگار، عليښنگ، و ننگراج ولايت لغمان بررسي بعمل آورده و بخاطر بهبود امور مربوط به مسوولين هدايت دادند.

سيمينار قضات و منسوبين محاکم قضايي ولايت ننگرهار تدوير يافت

سيمينار قضات و منسوبين محاکم قضايي ولايت ننگرهار به تاريخ ۲۵ ذوالقعدة الحرام با تلاوت اياتي چند از قرآن عظيم الشان در شهر جلال اباد تدوير يافت خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر جلال اباد خبرد اد : در سيمينار متذکره که به اشتراك قاضيان و منسوبين محاکم ولايت ننگرهار تدوير يافته است ابتدا محترم قاري محمد صادق رئيس محاکم ولايت ننگرهار پيرامون موضوع سيمينار به تفصيل صحبت نموده سپس روي پيشنهادات و نظريات مطرح شده بحث و تبادل نظر صورت گرفت . تدوير سيمينار متذکره يك اقدام مفيد و موثر در اجراات امور قضايي آن ولايت تلقي گرديده که نتايج آن ممد همه کارکنان قضايي واقع مي گردد.

د الوتکي په پېښه کي ککړ ليبيايي او سيدونکي به امريکا ته حواله نکړل شي

ليبيا د احق لري چي خپل دوه تنه اوسيدونکي په بل هيواد کي محاکمي ته وسپاري

د انصاف نړيواله محکمه

د نړيوالو خبري سرچينو د خبر له مخي په ليبيا باندي په لگول شويو بنديزونو د غور لپاره د امنيت شوري غونډه جوړه شوه په ي غونډه کي چي د عربي افريقايي او د دوي د ملاتړو هيوادونو په غوښتنه جوړه شويده په ليبيا باندي په لگول شويو بنديزونو غور وشو په غونډه کي فيصله وشوه چي په ليبيا لگول شوي بنديزونه غير قانوني دي او دا بنديزونه دي ژر ترژره پورته کړل شي.

دليبيا د بهرنيو چارو وزير عمر مصطفي غونډي ته په خپل خطاب کي ويلي دي چي د امريکايي الوتکي له راغورځيدلو وروسته چي په ليبيا کوم اقتصادي بنديزونه لگيدلي دي دا بي انصافي ده د وويل چي د امريکا او برطانيي دا غوښتنه چي ددي الوتکي په راغورځولو کي تورن دوه ليبيايان دي امريکا ته وسپارل څلورم مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

آيا ملگري ملتونه په افغانستان کي په رښتيا سوله غواړي؟

په افغانستان کي د ړنگ شوي شوروي اتحاد د بي شرم تيري او د افغانانو د جهاد او مسلح مقاومت په وخت کي ملل متحد د پريکړو په ډگر کي له افغانانو سره د قدر وړ مرسته کړي ده مگر کله چي تيري کوونکو پوځونو د مسلمانو مجاهدينو له لاسه هغسي مرگ ژوبله او تلفات وليدل چي دوي يي وړاندي ليد (پيش بيني) نه وه کړي او تيښتي ته چمتو شول ملل متحد د خپل استاځي بينن سيوان په لاس د سولي يوه داسي پروسه پيل کړه چي په هغي کي د شوروي اتحاد په شرميدلي ماتي د پردي اچولو هڅي شوي وي، هغه او له هغه را وروسته د ملل متحد ډ ديرو پخو ديپلوماتانو استاځو د سولي ټولي هڅي بوه په پله پسي له ماتي سره مخ شوي او د ماتي پړه يي په هر ځل په افغانانو وراچوله؛

دا منو چي که په ټولو افغاني اړخونو کي پړه او ملامتيا نه وي نو په ځينو کي هرو مرو شته ده، مگر حقيقت دا دي چي د ماتي لوي علت او فکتور د افغاني قضيي له ماهيت او د افغان ولس له طبيعت او غوښتنو سره نه بلدتيا او بي خبري ده ؛

د ملل متحد هر يوه استاځي که د مسئلي په ماهيت د ځان پوهولو هڅه کړي ده يوازي د ځينو افغاني ډلو د مشرانو او گاونډيانو په ذهنيت پوهيدلو يي بس والي کړي دي د ډلو مشران يي د ملت - ياد دوي په اصطلاح د مليشونو- نمايندگان او د هغوي ذهنيت يي د مسئلي ماهيت گڼلي دي نو ځکه يي يوه هڅه هم تر مراده پوري نه ده رسيدلي، ځکه چي د قضيي اصالت د افغان مسلمان او مجاهد ولس په مټو تکيه کوي لکه څرنگه چي ستر اسلامي جهاد د دوي په مټو او قربانيو بريالي شو؛ د ملل متحد اوسني استاځي ابراهيمي چي په تکړه ديپلومات او مجربه ديپلوماسي نړيوال شهرت لري هم په لومړي ځل د

دويم مخ

د افغانستان د اسلامي امارت د اداراتو د ۱٤۱۹ کال د تشکيلاتو د کميسيون کار پاي ته ورسيد

د افغانستان د اسلامي امارت د ادارو د تشکيلاتو د کميسيون کار پايته ورسيد.

د سرپرستي شورا مطبوعاتي دفتر د باختراطلاعاتي آژانس ته خبر ورکړ چي د چارو د اداري د عمومي رياست د مرستيال محترم مولوي محمد سليمان په مشري د مسلکي کار پوهانو په گډون د تشکيلاتو کميسيون له طرحه شوي پروگرام سره سم د ټولو وزارتونو او عمومي رياستونو لخوا د جوړو شويو تشکيلاتو په باره کي غور او ځيړني وکړي او په هغوي کي يي د علمي، اداري حقوقي، اقتصاد، مالي او د بودجي د علم له معيارونو سره سم لازم اصلاحات راوستل او د دايرو د استازو د دلايلو له اوريدو وروسته يي د ۱٤۱۹ هـ ق کال تشکيل منظوري ته چمتو کړ چي د افغانستان د اسلامي امارت د محترم مقام له منظوري وروسته به د بيل حکم په واسطه د عملي کولو لپاره مربوطو دايرو ته وليږل شي.

د نوي ملېزي له پيل سره به په پاکستان کي د ايډز د ناروغانو شمېر ملو زرو ته ورسيږي.

واشنگټن : اي کي ای‌لا روغتيا نړيوالي اداري د ډبليو، ايچ ، او ، پوهان باور څرگندوي چي که په پاکستان کي د ايډز د ناروغي د مخنيوي لپاره بېړني اقدامات ونشي نو د رواني سليزي تر پايه پوري به په دي ناروغي داخته و کسانو شمېر سلو زرو ته ورسيږي.

د امريکا غږ د خبر له مخي اوس په پاکستان کي له ايډز نه د اغيزمنو کسانو شمير ۲٦۲۱ ته رسيدلي دي ځني باخبره کسان د امريکا غږ راديو له دي راپور سره اتفاق نلري او وايي چي په پاکستان کي د ايډز د ناروغانو شمېر له دي ډېر زيات دي .

په ريپوټ کي ويل شويدي چي کله چي په لومړي ځل په کال ۱۹۸۷ کي د ايډز ناروغي کشف شوه، په پاکستان کي په رسمي انداز دوه تنه د ايډز په ناروغي اخته و .

شريعت

دامتياز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحريك
دتأسيس كال : ١٣٧٤ هـ ش
: د ليكوال هيئت ترنظر لاندې
مسؤول مدير : الحاج مولوى عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستيال : ملا أسد الله «حنيفي»
ديوي گڼي بيه : په هيواد كي (١٠٠٠) افغاني پهپاكستانكي(٣) كلداري
پوست بكس : (٤٧١)
په پيښور كي :دطالبانونمايندگيټيلفون: ٨٤٤٣٣١-٨١٨١٥٧-٨١٥٦٢٧
جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مركز
چاپ : دولتي مطبعه

د سرمقالي پاتې برخه

مخكنيو امثالو په څير د يوي ځغاستي په ترځ كي د ځينو ډلو د مشرانو او گاونډيانو د ذهنيتونو يوه ځغلنده كتنه وكړه او د هغي سطحي كتني راپور بي ملل متحد ته وړاندي كړ چي د ملل متحد مشر او غړي به نه يوازي دا چي په موجودو واقعيتونو نه وي پوه شوي بلكي ذهنونه به بي طبعاً د قضيي په هكله نور هم مشوش شوي وي.

اوس يو ځل بيا راغلي دي او هڅه كوي چي د سولي پروسه د خپلو نيمگړو معلوماتو پر بنسټ په مخ بوزي؛

كه په رښتيا سره دي د خپلو هڅو د برياليتوب په لټه كي وي نو دا خبره به هرو مرو په پام كي نيسي چي افغان مجاهد او مسلمان ولس څه غواړي؟ او له چا سره ولاړ دي؟ د كمونيزم په ضد د عمومي پاڅون او شرعي جهاد له برياليتوب نه وروسته د ژوند يو معلولو او شهيد شوو افغانانو هيله او ارمان په خپل وران هيواد كي اسلامي شريعت، امن او بيا ودانول دي، له كله نه چي د طالبانو اسلامي تحريك د خپلو مسلمانو او مجاهدو هيوادوالو د هيلو او ارمانونو د پوره كولو لپاره راپورته شونو هيوادوالو په يوه مخه ملا ورسره وتړله هغه نيك قوماندانان او مسلح ډلي چي د پورتني ارمان لپاره بي لس، پنځلس كاله د شرعي جهاد ستونزي گاللي وي په بيړه بي ځانونه د دغه سپيڅلي تحريك په ليكوكي وبيل او له دغه اسلامي او ملي بهير سره ملگري شول له دي خبري نه د هغي پوښتني ځواب چي افغانان څه غواړي؟ او له چا سره ولاړ دي؟ په زغرده راخيژي؛

د طالبانو اسلامي تحريك او د افغانستان اسلامي امارت بي له شكه د خپلو هيوادوالو د پورتنيو ارمانونو د پوره كولو لپاره را پورته شوي او د خپل مسلمان او مجاهد ملت په مرسته او ملاتړ بي د هيواد له دريو نه په څه دپاسه دوو برخو كي دغه ارمان تر ډيره حده پوري تر سره كړي دي او د الله تعالى په مرسته په مخ روان دي. كه هر څومره تحريك هڅه كړي ده ځي د خپلو هيوادوالو غوښتني او ارمانونه بي له جنگه او په كراره كراري تر سره كړي مگر بيا هم جنگ ته اړ شوي دي. دا ځكه هغه وخت چي دوي راپورته شول په هيواد كي مسلح ډلي مسلطي وي او ټولي خبري د ټوپك په شپيلي كيدلي، ددغي اړتيا له مخي دوي هم د ټوپك په خوله خبري پيل كړي، له انارشيزم نه د خپلو خلكو د ژغورلو لپاره بي بي دريغه او بي له سپمانه قرباني وركړي لا وركوي بي او مقدس ارمانونه بي له ضايع كيدلو نه وژغورل، د اسلامي امارت د سولي د هلو ځلو وروستي برخه هغه وړانديز ؤ چي د علماو و كرامو يوي شورا يا كميسيون ته دي پوره واك او صلاحيت وسپارل شي تر څو هغوي د كلونو كلونو دغي غميزي ته د پاي ټكي كيږدي. مگر د اسلامي امارت مخالفو ډلو د هغي پروسي د ناكامولو هڅي وكړي او په لست كي بي هغسي كسان وليكل چي نه يوازي دا چي په شريعت پوه عالمان نه وو بلكي د گډوډيو او فساد مخكښان او عاملين وو، د داسي مهمي شرعي او تاريخي پريكړي اهليت پكښي نه ؤ، له دي امله د اسلامي امارت مشرتابه هغه لست د تكميلولو لپاره مسترد كړ؛

د افغانستان اسلامي امارت اوس هم په خپل وړانديز او ژمنه ولاړ دي چي د مسئلي د حل لپاره ريښتنو علماوو كرامو ته بشپړ واك وسپارل شي او د پريكړي عملي كول بي تضمين شي؛ اوس كه چيري د سولي استاځي په هيواد كي د تأمين شوي امنيت او د خلكو پوره شوي ارمان(اسلامي شريعت) ته وده او پراختيا وركول غواړي نو لنډه لاره بي دا ده چي مخالفين او د دوي تر شا ولاړ بد غرضه گاونډيان دي خبري ته چمتو كړي چي وسله په ځمكه كيږدي او غميزه پاي ته ورسوي؛

او كه دا نه كوي نو هغه د علماوو كرامو د لست پره كولو او پوره واك وركولو پروسه دي په سمه طريقه سره په مخالفينو ومني او تر خپل ځار او تعقيب لاندي دي بي ونيسي تر څو دغه يوازيني د سولي پروسه بريالي شي.

انشاء الله تعالى

پټي پاڼي

شهرت ننگيال

مرگي خوښه دي پرده پوش دي

ژوند خوږدي، ډير خوږ دي، مرگ سخت او تريخ دي خو كله دغه خوږ ژوند له مرگه هم تريخ او سخت شي، دلته مرگ خوږ شي او بنده د ژوند له دغو تپولو رنگونو او خوندونو د مرگ ترخه حقيقت ته په هر كلي مجبور شي.

وايي چي د ژوند ارځښت پدي كي نه دي چي څرنگه ژوند وكړو بلكي پدي كي هم دي چي څرنگه مړه شو.

كله چي د مرگونو ارزاني او پريماني شي، كله چي د ژوند كاختي گډه شي، كله چي مرگ پرده شي، نو سخت او تريخ مرگ له هر څه خوږ شي.

« مرگي خوښه دي پرده پوش دي »

ځكه خو پښتانه د بي عزتي له ژوند نه د سر لوړي مرگ غوره بولي.

«مرگ له تندي په مذهب زما بهتردي

نه ژوندون د دون همتو په اوبو» !

موږ مرو، زموږ عمرونه لنډ دي، ټول مري، خو مرگ چي له موږ سره كومه لوبه را اخيستي څرگنديږي چي لاژ پږ بي بخ شوي نه دي موږ څوك په توغنديو او راكټونو مړه شوو، څوك په بمباريو او او رونو، څوك جيلونو و خوږو څوك پيغورونو.

دوي لسيزي له موږ سره د مرگونو جگړه روانه ده پدغه جگړه كي مرگ غالب دي. فاتح دي او موږ مغلوب، د مرگ زړه څومره سخت دي، د مرگ تنده د دوو لسيزو وينو ماته نشواي كړاي، د مرگونو هيولا همدغسي كومي شلولي دي زموږ په وطن كي له آبادو كورونو قبرونه ډير دي او له ودانو كليو هديري لويي دي، هغه چي له توغندي، راكټ، بم او گولي، نه هيسر او ورك شي او له مرگونو ليري وتښتي خو مرگ بي هلته هم مبلمه شي درك بي وموسي پيدا بي كړي او په مرئ بي كيني. هلته چي مرگ د توغندي او بم په جامه كي نشي ورتلاي هلته د مجبور او بيوسي لباس راغوندي او د غلام رسول لاسونه په حركت راولي د بريښنا ترانسپرمر ته بي وخيژوي په رڼو سترگو د بريښنا په تارونو منگولي ولگوي او له مرگ نه تښتيدلي بالاخره مرگ ته تسليم شي.

غلام رسول يو افغان دي چي هر څه ؤ خو اوس هيڅ نه دي اوس، مهاجر دي، كابلي دي.

ده د څو گنډيرو پر خرڅلاو په خپله مجبوري او بيوسي پرده اچوله، او د پښتنو په وطن كي بي خپله پښتو تر سره كوله، د باچاخان په چوك كي ده ټوله ورځ د گڼه گوڼي سترگي څارلي، مخامخ ورته په څلي د باچاخان تصوير لگيدلي ؤ او دغه تصوير سره نژدي يوه دردبدلي پښتون د پښتنو په وطن كي پردي بلل كيده. غلام رسول به د باچاخان تصويرته وكتل لكه د پښتنو په وطن كي چي د يوه پښتون ټولي گيلي او دردونه په همدغه يوه كتلو كي را يو ځاي شوي وي

غلام رسول د باچا خان په چوك كي د پښتنو په وطن كي ځان مړ كړ خو خپل ملي غرور او پښتني احساس بي ژوندي او سر لوړي وساته.

غلام رسول نن دومره بيوسه ؤ چي د پوليس د لسو كلدارو د قلنگ توان بي هم نه درلود، چي پوليس پري لاس پورته كړ او رابي كاږه څو ده شاوخوا وكتل، په بيوسي او تهيلي بي هر سړي ته سترگي واړولي لكه چي له هغوي نه د خپل مظلوميت او بيوسي ځواب غواړي، لكه چي د هغوي په سترگو كي د ننگ او پښتو وركه لټوي خو چي دا هيڅ بي ونه موندل نولدي مرگ نه ورته ژوند غوره ښكاره شو په سپيرو وچوشونډو بي همدا يوه خبره راغله ولدي نه خو مرگ ښه دي» د پوليس تيره ژبه بيا وچليده او دده پر زخمي زړه لكه يوه بله تيره چاړه ښخه شوه : « تاسي غونډي خلك چيرته مرداريږي» غلام رسول يو ځل بيا په څلي د باچاخان انځور ته وكتل لكه چي هغه شاهد او گواه نيسي او ورته وايي چي وگوره دا هر څه دروغ وختل. په پړاي د بريښنا پر ترانسپرمر وروخوت دده لاسونه نه ريږديدل، اعصاب بي مضبوط ؤ، د نور پوستكو يو ليږ چي دارته بيول كيده لگيدلي سگرټ بي په لاس كي ؤ ايږه همداسي پر سگرټ ښخه وه غلام رسول د بريښنا پر مزو خپلي وچي منگولي ښخي كړي او لاندي پريوت. د باچا خان په چوك كي يوه بل پښتون د وخت د مجبوريو او نا كردو له لاسه ووژل شو او يو ځل بيا د امن د سوالگر مړئ ته د مرگ زينډي ورواچول شوه.

مساته دري كاله دمخه په ډيلي كي د افغانستان هغه پيغله سترگو ته درېږي چي د ملگرو ملتونو د اداري په وړاندي بي د خپلي مجبوري او بيوسي همداسي يادگار پري ايښي و دغي پيغلي د ملگرو ملتونو د اداري د يوه هندو افسر د پيغور په وړاندي په ځان اور بل كړ او د احمد شاه بابا په مفتوحه ډيلي كي ايري، شوه.

د غلام رسول د ژوند بيه دلسوزر د كلدارو چلك شو، دده د ژوند بيه ځكه دومره ارزانه وټاكل شوه چي دي مهاجر او كابلي دي همدا دده الزام او گناه ده.

****

د قاضي څرنگوالي

قضاوت پوه محب الله «ابراهيم خيل»

قاضي هغه څوك دي چي د پاك الله «ج» نوم ورباندي اېښودل شويدي او د پيغمبر بر حق محمد مصطفى «ص» بر مسند ناست او د هغه مبارك دنده تمثيلوي نو بايد قاضي عالم با تقوي شجاع، مجرب، با شخصيت د ترحم او رأفت خاوند وي ښه به وي چي قاضي غوره سجايا ووته منسوب وي د حق او حقيقت روحيه ورسره وي د محاكمي په اصولو او دشريعت په هكله پوره بلدتيا ولري سر بيره پر دي كوم ځاي كښي چي دنده ورسپارل شوي وي د هغه محيط د عرف او عاداتو خبرتيا هم ور په برخه وي خصوصاً په جزايي برخو كښي دا ځكه چي د قضاوت په وخت كښي دغه ټول عوامل په نظر كښي نيول كيږي وروسته د جرم په تناسب او د مجرم په حالت پريكړه كيږي.

قاضي ته په شريعت كښي خورا ډير صلاحيت وركړ شويدي او په هغه تناسب دنيوي او اخروي مسؤليت هم دده پر غاړه پروت دي حضرت محمد مصطفى «ص» قاضيان په دريو ډلو ويشلي دي يوه ډله بي جنتيان او دوه ډلي بي دوزخيان بلل شويدي لومړي هغه څوك دي چي عالم وي او د علم په مقتضى په عادلانه توگه فيصله كوي د هغه ځاي جنت دي، دوهم كوم كسان چي عالمان وي او د علم په رڼا فيصله نكوي له حقيقت څخه انحراف كوي د دوي ځاي دوزخ دي بل هغه څوك دي چي علم نلري او د قضا عهده قبلوي اوقضاوت كوي ددغه كس ځاي همدوزخ بلل شويدي.

لنډه دا چي دا عهده د مذهب اماناتو د دنيوي او اخروي مسووليت او بار په لحاظ نده قبوله كړي نو قاضي ته لازمه ده چي د قضا لوړو مكافاتو ته ځانونه ورسوي او له ناوړه مجازاتو څخه ځان وژغوري په پوره ايمانداري او امانت داري دا مقدسه دنده سرته ورسوي په ډير جرأت زړورتوب او علاقه مندي سره چي د قاضي له بارزه اوصافو څخه شميرل كيږي په اړوندو امورانو كښي قضاوت وكړي ځكه د قاضي شرعي دنده د مدعي، مدعي عليه، مجرم او جاني په هكله پريكړه ده نو كه چيرته قاضي زړورتوب ونلري نشي كولي خپله ورسپارل شوي عهده په موفقانه توگه وړاندي يوسي.

بل عامل چي د قاضي په قضاوت كښي مهم رول لوبوي د هغه په كړو باندي د لوړو مقاماتو اعتماد دي دا چي قاضي مستعد وگڼل شو او د قضاوت لپاره وگمارل شونو بايد د هر مدعي او مدعي عليه ددغه او هغه په خوله او شكايت تهديد او مجازات نشي ځكه د قضاوت جرأت بي سلب كيږي په نتيجه كښي قاضي جبون او د جبن له كبله د بي عدالتي په لور سوقيږي.

بل كوم شي چي په سالم قضاوت كښي د غرور وړ دي د قاضي اقتصادي حالت ته پاملرنه ده ځكه اقتصادي تشويش قاضي په اضطراب كي اچوي له بلي خوا كله چي قاضي د خلكو جيب ته طمع پيدا كړه نو عدالت نشي كولي له همدي كبله كه په جهاني سطحه وگورو په نوره نړۍ كښي د قاضي اقتصادي حالت ته پاملرنه شويده.

همدارنگه د قاضي په قضاوت كښي مهمه ده چي قاضي بايد كامله اراده او په آزاده توگه قضاوت ته پريښودل شي يعني په قضا كښي هيڅ رنگ مداخلي ته ځاي ورنكړل شي قاضي چي د بل چا تر تاثير لاندي راشي عدالت نشي تأمين كيدي او سالم قضاوت دانمن كيږي لوړ مقامات بايد قاضي خپل آزاد قضاوت ته پريږدي او د هغه په كار كښي مداخله ونكړي او كه چيرته قاضي د انحراف خواته سوق شوي وي قانوني مرجع بايد له هغه څخه پلټنه وكړي او د جرم له اثبات څخه وروسته ورسره قانوني چلند وشي.

والله اعلم بالصواب.

تنها اعتقاد كافي نيست

واژه اعتقاد در فرهنگ اصطلاحات و لغات به يقين كردن باور داشتن و گرويدن به امري معني شده و پابندي و تعهد در برابر امر سترگ و ارزشمند خود اعتقاديست كه شخص معتقد بايد آنرا بداند و اهميت اين باورمندي را ارج بگذارد.

وقتيكه ما ميگوئيم به دين مبين اسلام اعتقاد داريم و به اين دين مقدس مشرف بوده به اوامر و نواهي آن معتقديم واقعاً كه اسلام را برگزيده ايم و در مكتب انسان ساز اسلام شامل بوده و پابند مدرسه قرآن اين كتاب ملكوتي ميباشيم.

ولي آيا صرفا اعتقاد داشتن براي مسلمانان بودن كافيست ؟

به پاسخ سوال فوق بايست عاقلانه انديشيد و عميقاً درين مورد مطالعه كرد و از نتايج مطالعات خويش بايد استنباط نمود كه اعتقاد زماني ميتواند به كرسي حقانيت تكيه بزند كه عملاً اين باور مندي را در اجتماع بشري ثابت نمود و اعمال را مطابق گفتار مشهود گردانيد.

في المثل وقتي كه به عدالت اسلامي توجه ميگردد بوضاحت مشاهده ميشود كه همه مسلمانان نزد خداوند متعال داراي ارزش واحد اند ولي داشتن تقوي اين ارزشمندي را سنگين تر ساخته و خداوند متعال مؤمنين با تقوي و پرهيزگار را دوست دارد. از مثال فوق چنين استنباط ميگردد كه تقوي بايد ملاك عمل قرار گيرد و دوري از منكرات و امر به معروف جز خصلت اسلامي فرد مسلمان شود و شخص مسلمان بخاطر تطبيق احكام الهي بايد پرهيزگار باشد و در پهلوي اينكه خود پرهيزگاري نمايد ديگران را نيز به صداقت عمل و نظر دعوت كند.

و با هم حسد بردن در دين مقدس اسلام شرعاً روا نيست و اگر فردي به دارايي و هستي شخص ديگر حسد برد بدون شك گناهكار خواهد بود ولي غبطه در دين مقدس اسلام ناروا نيست و آرزوي آرامش و سعادت را براي خود و براي همه كردن نه تنها خلاف احكام شريعت ناب محمدي« ص» نميباشد بلكه رواهم است.

از مثال هاي فوق چنين نتيجه گيري ميشود كه فرد پرهيزگار كه صاحب اخلاق شايسته اسلامي است حق، صلاحيت و وظيفه دارد كه ديگران را نيز در امر خير و تطبيق اوامر خداوند« ج» دعوت و رهنمايي كند ولي اگر دعوت گرو رهنما خود پابند امر حق نبود نه تنها كسي به حرفش گوش نميدهد بل دعوت شونده گان انگشت انتقاد بالاي اعمال نادرست و خلاف اعتقادات دعوتگر خواهند گذاشت و با هم رشك بردن از آرامش ديگران و آنها را به مخاطره انداختن و به زندگي سعادتمند ديگران حسد ورزيدن خود خلاف اعتقادات مذهبي است كه بايد به مرمت فلسفه اعتقادي خود پرداخت. سراغ ميشود در جامعه افرادي كه به صداقت و پرهيزگاري ظاهري خود مينازند و به اعمال نيكوي خود مباهات نموده از عملكرد هاي مفيد خود نسبت به ديگران مي لافند ولي حقيقت حرف در اين جاست كه رسانيدن خير به مؤمنين، دستگيري از غربا و مساكين، داشتن صله رحم به مردم ناتوان و محتاج، فروتني، شكسته نفسي و تواضع كدام امراضافي از اوامر خداوندي نيست اگر فردي راضي باشد كه مسلمان صادق و كامل است بايد اخلاق حميده در برابر مردم و سلوك و رفتار مناسب با همه افراد اجتماع داشته باشد و در جامعه با مردم چنان برخورد و روابط قايم نمايد كه خصايص پسنديده فوق الذكر نه تنها در حرف بلكه در عمل بوضاحت مشاهده شود و مردم از روش نيك و صداقت عمل و عقيده وي ضمن اينكه مستفيد شوند و فيض ببرند درس بزرگ اسلامي و نحوزيستمناسبرادراجتماعفراگيرند.

حفظ كرامت انساني و ارزش دادن به آبروي مردم و جلوگيري از هتك حرمت برادران در جامعه اسلامي يك اصل پذيرفته شده است كه هر مسلمان پاك طينت و واقعي آنرا در نظر گرفته و آن چنانكه آنرا در حرف بيان ميكند در عمل نيز ثابت سازد كه حرف و عمل او يكي است و بيان او از كردارش منافات ندارد.

يعني ظاهر و باطن فرد مسلمان از هم متفاوت نبوده و آنچه از صداقت در دل است بايد در زبان باشد و زمانيكه به زبان رانده شد عمل نمودن آن نيز امر حتمي و ضروري خواهد بود در غايت امر اصولاً ميرساند كه داشتن اعتقاد حلال مشكلات است و صرفاً همين معتقد بودن بسنده خواهد بود ولي عدم تأمين ارتباط في مابين عمل و اعتقاد نقص عمده است كه اعتقاد بدون عمل را زير سوال ميبرد چه اعتقاد چون فتيله، است كه بدون روغن يعني بدون عمل نمي سوزد و براي ديگران نور و روشني نمي بخشد و اگر هم بخشد مؤقتي و گذرا خواهد بود كه خداوند بخشانيده هر فرد معتقد به دين مقدس اسلام را عمل نيك نصيب گرداند تا واقعاً اعتقادات اسلامي با انجام اعمال مشروع و سالم اسلامي در اجتماع نضج يابد و باعث منزه گرديدن اجتماع از ساير نارسايي ها شود و با اختيار روش واقعاً اسلامي خداوند متعال سعادت دارين را نصيب هر فرد مسلمان گرداند و مصيبت ها و بلا هاي ناشي از تفاوت و تضاد حرف و عمل را از ميان بردارد.

آمين

عمر [illegible] و [illegible] بيت المال

خليفه اسلام حضرت عمر بن عبدالعزيز «رح» درد وره خلافت خويش احساس نمود كه قبل از خودش از بيت المال استفاده نا جايز صورت گرفته و هم در مداخل و مخارج از آن هر قسم در آمد جمع گرديده و از آن ذخاير مصرف ميگرديد.

بخاطر انتظام بيت المال در قدم نخست تصميم اتخاذ نمود تا تمام وظايف و در امد خصوصي خانواده خويشرا بند نموده و هم چنان تمام اشياء، سامان و لوازم اضافه از ضرورت اوليه شخص خود و خانواده خود را فروخته و قيمت آنرا تحويل بيت المال كرد.

علاوه بر آن دستور صادر نمود تا وسايل سواري (اسپ و قاطر) موظفين امنيتي خاندان بنواميه كه مخارج و مصارف آنرا از بيت المال اخذ مينمودند، بفروش رسانيده و قيمت اش را تحويل بيت المال نمايند.

از در آمد و جمع آوري مال غير مشروع به بيت امال ممانعت جدي نموده و بخاطر انتظام و استفاده درست از آن سخت اهتمام ورزيدند.

د خوښي خبرتيا

په افغانستان کي د اسلامي نظام له ټينګښت سره سم د ګورنيو جګړو د دوام له امله د اردو ټولي تعليمي او تحصيلي موسسي چور او تالا شوي او د نوموړو موسسو درسي لوازم کتابتونونه، درسي خوني له منځه لاړي او خيره ډيته ورسيده چي د هيواد د بچيانو په مخ د پوهني زده کړي دروازي و تړل شي، د نوموړو مؤسسو پر شمير زده کوونکي له هيواد څخه بهر لاړل او ګوم چي پاتي شول د خپلي ورڅي د پيدا کولو له پاره يې په ورځنيو کارونو پيل وکړ او په دغه ډول د اردو د کادرونو روزنه په ټپه ودريدله . له نيکه مرغه اوس چي په افغانستان کي د افغانستان د اسلامي اردو د طالبانو او مجاهدينو په سر ښندنه د هيواد په زياته برخه کي شرعي قانون نافذ، سوله تأمين او د هيواد د بچيانو له پاره د لوست او زده کړي شرايط برابر شويدي نو دا دي په ډيره خوښي سره د شريعت غږ راډيو له لاري د روان هـ ق کال د ذوالقعدة الحرام د مياشتي په ١٢-١٣ خبرتيا خپره شوه چي د حربي پوهنتون، هوايي پوهنتون تخنيک اکاډمي او حربي ښوونځي د بيا فعالولو له پاره نوي شاملين منل کيږي ددغي خبرتيا په اوريدلو سره زموږ ټول وطنوال د زړه له کومي خوښ شول دا ځکه چي له يوي خوا د اردو د بيا جوړولو کار پيل کيږي او له بلي خوا به زموږ ځوانان ددي وخت پيدا کړي چي د خپلي ملي اسلامي اردو په ليکو کي د خپل هيواد او خلکو د استقلال ملي واکمني او ځمکني بشپړتيا څخه د خپلو تيرو پلرونو په شان په لوړه او هسکه غاړه دفاع وکړي او د يوي سالمي اردو په جوړيدلو کي به د سالمو کادرونو په ځير خپله ديني او ملي دنده تر سره کړي زموږ هيله له ټولو هيوادوالو څخه داده چي خپل بچيان په ډير اخلاص سره د نوموړو پوهنځي تحصيلي موسسو د شمول له پاره وهڅوي اوپه دغو حساسو شيبو کي ددغه ملي او اسلامي کار په سرته رسولو سره د وطن د مور په وړاندي خپل فرض ادا کړي .

زمونږ مجاهد اردو د اسلامي او ملي ارزښتونو ساتونکي

جهاد به د قيامت تر ورځي به روان وي
الحديث

چگونگي طرز اجراي تمرين پرتاب بم دستي

تمرين عمليه پرتاب نمودن بم دستي توسط بم تعليمي از نوع (١-هـ) بدون حق انفلاق که داراي وزن ٦٠٠ گرام و در ضمن بدون دستکي فيته آمنيت بوده صورت ميگيرد تمرين پرتاب نمودن بم دستي در حاليکه سر بازان سلاح کلاشينکوف را بدست گرفته باشد اجرا ميگردد. عمليه، پرتاب نمودن بم دستي را سربازان و محصلين ميتوانند از وضعيت هاي ذيل اجرا نمايند:

١- از حالت موضع ثابت ٢- با برداشتن يك خطوه به پيشرو در حاليکه قدم پرتاب کننده از خط معينه(چوب مانده شده) طرف پيشرو خارج نگردد (از حالت نيمه متحرك) ٣- با برداشتن چندين خطوه بطرف پيشرو البته اين وضعيت را سربازان بمسافه، چندين متر از عقب خط تعيين شده اتخاذ مي نمايند (متحرك) و يا دويدن چند خطوه يي ٤- از حالت دويدن هر پرتاب کننده بايد بم را ٣ مرتبه با اجراي ١٥ مرتبه خيز زدن تمريني در مدت ٢ دقيقه در حاليکه سعي شان اين باشد که بم را بايد دقيقاً بداخل دايره، کوچك که قبلاً اماره گرديده که در حقيقت نشان دهنده دهن موضع يا خندق دشمن ميباشد اصابت دهند . پرتاب نمودن بم دستي از عقب چوب چهار تراش که طول آن ٢ متر و ضخامت آن ١٠ سانتي متر بوده و به رنگ سفيد رنگ آميزي شده و طوري در بالاي زمين قرار داده شود که بلند آن از بالاي سطح زمين به اندازه ١٠ سانتي متر باشد و در ضمن در هر دو انجام آن دو عدد بيرق (ورزمه) که يکي آن برنگ سفيد و ديگر آن به رنگ سرخ باشد و ارتفاع هر دوي آن به اندازه ٥٠ سانتي متر باشد نصيب گردد . خط دويدن براي پرتاب نمودن بم بايد داراي سطح سخت و بدون علف و چقله باشد در حاليکه عرض آن نه کمتر از ٢ متر و طول آن ٦ الي ٨ متر باشد حاضر ساخته شود سر انجام اجرا کننده گان تمرينات تعليم و تربيه فزيکي و مسابقات ميتوانند صرف از بم هاي تعيين شده بايد استفاده نمايند.

از فرهنگ اصطلاحات عسکري

پيوسته به گذشته

تعريفات و اصطلاحات عمومي تکتيکي و مسلکي

جزوتام : جزوتام عبارت از اصطلاح تکتيکي است کـه در مـوارد قـوت هاي دلگي، بلوك، تولي و کندك شامل استعمال ميگردد. دلگي ، خورد ترين جزوتام و کندك جزوتام اصلي است .

قطعه : عبارت از اصطلاح تکتيکي است که در موارد غند و لوا هاي مستقل استعمال مي شود .

جزوتام بزرگ: عبارت از اصطلاح تکتيکي است که در موارد فرقه، قول اردو و اردو ها بکار برده ميشود.

اشکال محاربه : محاربه نظر به امکانات قوت ها ، اسلحه وسايط تخنيك محاربوي شرايط، اراضي و خصوصيت توپوگرافيکي آن شرايط هوائيه و متيرولوژي اراضي ساحه، فعاليت هاي محاربوي طرفين متخاصم به اشکال ذيل ممکن است صورت گيرد.

